# د منکرین حدیث د شبهاتو جواب

## تالیف : الشیخ جلال الدین قاسمی حفظه الله

Ketabton.com

## پښتو ترجمه: طاهر حسن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ددی ثبوت چی حدیث هم دالله له طرفه منزل دی

لکه څنګه چی قران وحی ده دغه شان حدیث هم وحی ده چی د الله له طرفه نازل شوی دی پدواړو کی فرق صرف دومره دی چی قران وحی جلی ده او حدیث وحی خفی

مقدام رضی الله عنه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی((أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْكِتَابَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ، أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ، أَلَا يُوشِكُ رَجُلٌ يَنْثَنِي شَبْعَانًا عَلَى أَرِيكَتِهِ يَقُولُ: عَلَيْكُمْ بِالْقُرْآنِ، فَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَلَالٍ فَأَحِلُّوهُ، وَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ [ص:411] حَرَامٍ فَحَرِّمُوهُ، أَلَا لَا يَحِلُّ لَكُمْ لَحْمُ الْحِمَارِ الْأَهْلِيِّ، وَلَا كُلُّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، أَلَا وَلَا لُقَطَةٌ مِنْ مَالِ مُعَاهَدٍ إِلَّا أَنْ يَسْتَغْنِيَ عَنْهَا صَاحِبُهَا، وَمَنْ نَزَلَ بِقَوْمٍ، فَعَلَيْهِمْ أَنْ يَقْرُوهُمْ، فَإِنْ لَمْ يَقْرُوهُمْ، فَلَهُمْ أَنْ يُعْقِبُوهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُمْ "))مسند احمد **17174**

**(( واوری ما ته قران راکړی شوی دی او ددی سره یو بل ددی پشان شی هم راکړی شوی دی ( یعنی احادیث ) واوری نژدی ده چی یو ډک خیټی کس به په خپل پالنګ باندی تکیه لګولی وی او وایی به ستاسو لپاره قران کافی دی ( د حدیث ضرورت نشته ) نو څه چی تاسو ته قران کی حلال میلاو شی هغی ته حلال وایی اوکوم شی چی قران کی حرام وی هغی ته حرام ووایی خبردار تاسو لپاره کورنی خر حلال ندی او هر داړه ور درنده مالک د هغی نه بی پراوه وی او څوک چی د یو قوم خواته لاړ شی هغوی باندی دده میلمستیا واجب ده که هغوی دده میلمستیا ونکړی نو ده له پکار دی چی د هغوی نه خپل میلمستیا په زوره واخلی ))**

یعنی دکورنی خر حرمت په قران کی نشته ددی حرمت په حدیث نبوی کی بیان شوی دی

کوم خلک چی د حدیث د حجیت منکر دی د هغوی نه مونږ پوښتنه کوو تاسو دا تسلیموی چی قران د الله کتاب دی نو تاسو ته دا دکومه معلومه شوه ؟ که ستاسو جواب دا وی چی د دی خبری ثبوت چی قران د الله کلام دی دا د قران نه ثابته ده نو دا خبره غلطه ده ځکه پدی صورت کی چی کومه دعوی ده همغه دلیل هم دی او دا صریح غلطی ده ځکه د ټولو نه مخکی په نبی علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندی د سورت العلق ابتدایی ایاتونه نازل شوی وو نو ددی نه کوم یو ایت ددی دلیل دی چی ددی سورت نزول د الله له طرفه دی که نه وی نو بیا دا تسلیم کړی چی ددی خبری دلیل چی قران د الله کلام دی   د حدیث نه معلومیږی

په حقیقت کی کوم کس چی د حدیث نه منکر وی هغه ددی نه هم منکر دی چی قران دالله کلام دی ځکه دا ممکن نده چی قران د حدیث نه بغیر حجت وګرځی لکه څنګه چی یوکس الله تعالی ته د نبی علیه السلام نه بغیر نشی رسیدلی دغه شان د نبی علیه السلام د حدیث نه بغیر قران ته رسیدل ممکن ندی

هرکس دا خبره منی چی  دکلام بعضی خصوصیات وی چی په کاغذ باند ی نه راځی بلکی د هغی تعلق د لهجی سره وی ددی د مثال لپاره دا جمله یاده کړی هغه جمله دا ده ( څه خبره ده ) ددی جملی معنی د لهجی په اختلاف سره بدلیږی دا جمله کله د پوښتنی کولو لپاره استعمالیږی او کله د تعجب لپاره کله دتعظیم لپاره اوکله د تحقیر لپاره

نوکه چیرته دا جمله په کاغذ باندی ولیکلی شی او یوکس ته ولیږل شی نو ایا هغه کس به ددی جملی په لوستلو سره د متکلم په مراد باندی پوهه شی ؟ هیڅ کله نه بلکی کومه معنی چی هغه پری پوهیږی هغه به دهغه خپل مراد وی

نوکه دا کس د تعجب په حالت کی وی نو هغه به ددی نه تعجب مراد واخلی اوکه پوښتنی په حالت کی  وی نو سوال به ترینه مراد واخلی یو شاعر ډیره ښه خبره کړی ده

مصور ( خیال کونکی ) خو صرف د محبوب صورت او شکل جوړولی شی لیکن د محبوب انداز خو په خپلو الفاظوکی نشی بیانولی

ددی نه علاوه یو بل شی عرف هم دی یعنی په خبره کی بعضی شیان داسی دی چی د یوی خاص ژبی والا سره د وخت تیرولو په وجه انسان په هغی باندی پوهیږی

د انګریزانو په دورکی په هندوستان کی په یو ښارکی یوکس د یو انګریز چی کلکټر نومیده د هغه منشی ووکلکټر اګرکه انګریز وو لیکن دا ګمان یی وو چی زه په اردو باندی ډیر ښه پوهیږم نو هغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

به خپل منشي ته ويل چي زه ستا نه په اردو باندی ښه پوهيږم نو منشي به ورته هيڅ جواب نشو ورکولی ځکه ددی فکر ورسره وو چی د ملازمت نه به می لری کړی یوه ورځ دا انګریز په جوش کی راغلی او په سوک باندی یی میز ووهو او ویی ویل

منشي مونږ ستا نه په اردو ښه پوهيږو

دا ځل منشي ته هم غصه راغله هغه سوچ وکړو چی که نوکری می پاتی کیږی یا ختمیږی زه به دده جواب کوم نو هغه هم میز په سوک ووهلو او ویی ویل

زما مشره تاته د اردو الف با هم نه درځی

کله چی انګریز دا خبره واوریدله نو حیران شو او ویی ویل ته زما امتحان واخله

نو منشي وویل که چیرته زه ستا امتحان واخلم نه تو به خپل تخرګونه وشنډوی

نو انګریز په تخرګونو شنډولو شروع وکړه او په خبره پوهه نه شو ډیر سوچ یی وکړو لیکن پوهه نه شو اخیرکی یی وویل منشي ماته دری ورځی مهلت راکړه زه به تاته ددی مطلب ووایم

منشي وویل دری ورځی نه وه ورځی مهلت واخله

الغرض هغه دا لفظ په لغت کی ولټوو نو لغت کی صرف د تخرګ لفظ میلاو شو او د شنډولو مطلب میلاو شو لیکن ددی پوره جملی اصل مفهوم میلاو نشو اخیر د وه ورځو نه پس هغه وویل

ددی مطلب دادی چی لاس اوچت کړی شی او تخرګونه ولیدلی شی  منشي په خندا شو نو انګریز وویل نو بیا ددی څه مطلب دی نو

منشي وویل ددی مطلب به زه تاته پدی شرط باندی ووایم چی ته دا دعوی پریږدی چی زه په اردو ښه پوهیږم

نوکله چی هغه دا خبره ومنله منشي وویل دا جمله په حقیقت کی د حیرانتیا څخه کنایه ده یعنی که زه د انګریز امتحان واخلم نو هغه به حیران شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

الغرض دکلام بعضی خصوصیات داسی وی چی د هغی تعلق د عرف سره وی غیر اهل عرف د هغی په معنی نه پوهیږی دغه شان په قران کی هم بعضی دا سی احکام دی چی هغه خلک پری پوهیږی کوم

چی د نبی علیه السلام ملګری پاتی شوی دی نو څوک چی غواړی په قران باندی پوهه شی نو اهل عرف ـ( صحابه ته دی رجوع وکړی

ددی بهترین مثال د سوره بنی اسراییل دا ایت دی

او خپل لاسونه د څټ سره مه تړه او مه یی ډیرکولاووه نوکه ته داکار وکړی ته به ملامت به شی او پښیمانه به کینی

په دی ایت کی د څټ سره د لاسونو تړل د بخل څخه کنایه ده او ددی بالکل کولاوول د فضول خرچی نه کنایه ده

# (د حدیث د حجیت دلایل)

**الله تعالی فرمایي :** حافِظُوا عَلَى الصَّلَواتِ وَالصَّلاةِ الْوُسْطى وَقُومُوا لِلَّهِ قانِتِينَ (238) فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجالاً أَوْ رُكْباناً فَإِذا أَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَما عَلَّمَكُمْ ما لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ (239)

**((د مونځونو حفاظت وکړی خاص طور سره د مینځنی مونځ او الله تعالی ته په ادب سره ودریږی بیاکه تاسو ددښمن نه ویریږی نو په روانه او ناسته باندی مونځ کولی شی اوکله چی تاسو په امن کی شی نو د الله ذکر په هغه طریقه سره کی چی تاسو ته یی درښودلی ده کومه چی تاسو ته مخکی نه وه معلومه))**

ددی ایت نه معلومیږی چی یو مونځ مینځی دی لیکن د قران نه دا نه معلومیږی چی دا کوم مونځ دی ؟ لیکن د لاندینی حدیث څخه معلومه شوه چی دا د مازیګر مونځ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ: «مَلَأَ اللَّهُ بُيُوتَهُمْ وَقُبُورَهُمْ نَارًا، كَمَا شَغَلُونَا عَنِ الصَّلَاةِ الْوُسْطَى»

سنن ابن ماجه 684 –

**د علی رضی الله عنه نه روایت د ی چی د غزوه خندق په موقع باندی نبی علیه السلام فرمایلی وو الله تعالی ددی ددوی قبرونه اوکورونه د اور نه ډک کړی ځکه دوی مونږ لره د مینځنی مونځ نه وران کړو تر دی چی نمر ډوب شو**

دغه شان ددی ایت نه معلومه شوه چی د امن په حالت کی د مونځ څه خاص طریقه شته دی او هغه طریقه الله تعالی خلکو ته ښودلی ده لیکن که ته ټول قران ولولی تاته به د مونځ طریقه میلاو نشی ددی نه معلومه شوه چی د مونځ طریقه الله تعالی په یوه بل ذریعی سره ښودلی ده او د سوچ فکر نه بغیر دا ویل صحیح دی چی دا ذریعه حدیث دی

**دویم دلیل**

**الله فرمایي :**

يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ( سورة النساء 11)

**((الله تعالی تاسو ته ستاسو د اولاد باره کی وصیت کوی چی یو هلک ته به ددوه جینکو د حصی برابر حصه میلاویږی که چیرته صرف زنانه وی او ددوه نه ډیری نو هغوی ته به د ټول مال څخه ددریمی حصی نیمه میلاږیږی که چیرته یوه جینی وی هغی ته به نیمه حصه میلاویږی))**

ددی ایت نه معلومه شوه چی که هلکان نه وی او جنیکی ددوه نه ډیری وی نو هغی ته به په دری وکی دوه حصی میلاویږی او یوه حصه به باقی پاتی کیږی اوکه چیرته یوه جینی وی نو هغی ته به نیمه حصه میلاویږی او نیمه حصه به باقی پاتی کیږی

لیکن د ایت نه دا معلومه نشوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی دا باقی پاتی شوی حصه به چیرته تقسیمیږی؟ چاته به ورکولی شی؟ ددی ذکر قران کی نشته لهذا ثابته شوه چی د قران نه علاوه یوه بله وحی هم شته دی.

**دریم دلیل**

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ (51)

**((او د هیچا لپاره ممکن نده چی الله ورسره خبری وکړی مګر د وحی په ذریعی د پردی نه شاته یا الله یوه فریښته راولیږی او په خپل فضل سره د څه شی وحی وکړی بیشکه الله تعالی دکمال او حکمت والا ذات د ی))**

پدی ایت کی د یو نبی طرفته د الهی احکامو د رسیدلو دری طریقی بیان شوی دی

۱ *د براه راست وحی په واسطی سره

۲ د پردی نه شاته براه راست کلام کول

۳ د الله په حکم سره یوه فریښته راشی او یو رسول ته د الله احکام راورسوی

وس چی کله مونږ ګورو چی قران پدی دری قسمونوکی کوم یو قسم دی نو مونږ ته دالله دا قول مخی ته راځی

وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ (192) نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ (193) عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ [الشعراء: 192-194]

**او بیشکه دا دالله له طرفه نازل شوی دی جبریل علیه السلام دا رارسولی دی او ستا په زړه باندی یی نازل کړی دی دی لپاره چی ته د ویره ورکونکو څخه شی**

ددی ایت نه معلومه شوه چی قران د وحی دریم قسم دی نو وس د وحی باقی دوه قسمونه پاتی کیږی او ښکاره خبره ده چی ددی دوه قسمونو استعمال د نبی علیه السلام په حق کی شوی دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د حدیث په شکل کی کیدلی شی

د منکرین حدیث له طرفه دا غلط فهمی او اشکال مخی ته راځی چی که  حدیث هم د قران په شان حجت ومنل شی نو دی سره شرک فی الحکم لازم راځی او دا خلک د خپل موقف په تاییدکی دا ایتونه پیش کوی

قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَى إِلَيَّ مِنْ رَبِّي

اعراف(203)

**زه خو د هغه شی تابعداری کوم چی ماته یی وحی کیږی**

اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ

**د هغه څه تابعداری وکړی چی دالله له طرفه تاسو ته نازل کړی شوی دی**

۳{وَلا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا} [الكهف: 26]

**او الله تعالی په خپله فیصله کی څوک شریک نه ګرځوی**

د اعتراض وضاحت دادی چی نبی علیه السلام د وحی تابعداری کوی او ټولو انسانانو ته هم د وحی د تابعداری حکم شوی او د بل چاد تابعداری نه منع شوي نوکه د الله د خبری نه علاوه د بل چا خبره هم حجت شرعی دا ومنل شي ددی نه دا لازم راځی چی په قانون سازی کی دالله سره څوک شریک شته او همدا شرک فی الحکم دی

دا اعتراض به هله قابل قبول وی چی کوم خلک حدیث ته حجت وایی هغوی دا ویلی چی نبی علیه السلام د خپل طرفه یو شی حلالوی او حراموی

حالانکه الله تعالی فرمایی

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ (44) لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ (45) ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ (46)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که دی نبی په مونږ باندی د ځانه څه خبره جوړه کړی وی نو مونږ به دهغه ښی لاس نیولی وی او د هغه د مری رګ به موکټ کړی وی**

او الله تعالی فرمایی

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى (3) إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى (4)

**او دا نبی د خپل خواهش څخه خبری نه کوی دا خو صرف وحی ده چی ده ته کیږی**

د نبی علیه السلام خبری خو وحی ده چی د هغه طرفته کیږی

کوم خلک چی حدیث ته حجت وایی هغوی دا وایی چی حکم قانون سازی صرف دالله کار دی

الله فرمایی

**دستور حیات او قانون الله تعالی جوړ کړی دی**

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ (67)

**حکم سازی صرف د الله کار دی**

او نبی ددی قانون په تبلیغ باندی مامور وی کله ددی قانون تبلیغ د الله په کلام سره چی قران دی کوی اوکله په خپله ژبه چی حدیث دی

ددی نه شرک فی الحکم کوم ځای کی لازم راځی؟ شرک فی الحکم خو به هغه وخت لازم راتلی چی د قانون سازی اختیار د الله نه علاوه بل چاته هم حاصل وی اوکه چیرته د هغوی دا عقیده وی چی لکه څنګه چی الله قانون جوړوی دغه شان نبی هم قانون جوړوی حالانکه نبی چی څه کوی هغه د الله د حکم مطابق کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نبی علیه السلام د قران د ایتونو وضاحتونه او ددی مثالونه

حقیقت خبره داده چی قران یوه کلیه ده او حدیث ددی بیان کوی ددی بیان او وضاحت نه بغیر د قران د مضمراتو د مراد وضاحت نا ممکن دی

د قران الفاظ او معانی دواړه د الله له طرفه دی نبی علیه السلام پدی دواړوکی مدعی ندی بلکی امین او ناقل دی یعنی د الفاظو نزول د الفاظو جمع تر دی چی د الفاظو قرات او دمطالبو شرح او د معانیو بیان ټول د الله له طرفه دی

الله تعالی فرمایی
إِنَّ عَلَيْنا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ فَإِذا قَرَأْناهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ»
سورة القيامة: 16- 18.
**بیشکه ددی قران جمع او ددی لوستل زمونږ ذمه داری ده نوکله چی مونږ دا ولولو ته ددی د لوستلو پیروی وکړه بیا ددی واضح کول هم زمونږ  ذمه داری ده**

یو بل مقام کی الله تعالی فرمایی
وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ (44) النحل

**او مونږ په تا باندی دا قران نازل کړی دی دی لپاره چی ته خلکو ته هغه څه بیان کړی چی هغوی ته نازل شوی دی دی لپاره چی هغوی غور او فکر وکړی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په دی ایت باندی غور وکړی شی نو معلومه به شی چی پدی کی د قران د نازلولو نسبت الله خپل طرفته کړی دی او ددی د وضاحت نسبت یی د نبی علیه السلام طرفته کړی دی او د نبی علیه السلام د وضاحت په واسطه چی د قران وضاحت شوی دی مخاطبین دی په هغی باندی غور او فکر وکړی

دا قید په اصل کی د قران کریم حفاظت کوی او د یو منحرف سوچ لرونکو ته دا موقع نه ورکوی چی  خپل طرفنه د قران د ایتونه وضاحتونه وکړی

مثال په طور الله تعالی فرمایی

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا (38)

**غلا کونکی سړی او د غلا کونکی ښځی لاسونه کټ کړی**

ددی ایت د لوستلو نه پس دا سوال پیدا کیږی چی د غلا مال چی خومره مقدارکی وی نو لاس به کټ کولی شی ؟ لاس به دکوم ځای پوری کټ کیږی؟

 ددی جواب په لاندینی حدیث کی دی

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُقْطَعُ الْيَدُ إِلَّا فِي رُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا»
سنن ابن ماجه **2585**

**د عایشه رضی الله عنها څخه روایت دی د غل لاس به د دینار د څلورمی حصی په مقدار د مال غلا کولو په وجه کټ کولی شی**

د مطلق حکم دا قید څه جدا حکم ندی بلکی د قران وضاحت دی

الله تعالی فرمایی **{لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ}**

**البته دکوم مسجد بنیاد چی د اولی ورځی نه په تقوا سره ایخودی شوی دی**

دا کوم مسجد دی؟

 ددی وضاحت پدی حدیث کی موجود دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنِ ابْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ قَالَ: تَمَارَى رَجُلَانِ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ، فَقَالَ رَجُلٌ: هُوَ مَسْجِدُ قُبَاءَ، وَقَالَ رَجُلٌ: هُوَ مَسْجِدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ مَسْجِدِي»

مسند احمد **11046**

**د ابو سعید رضی الله عنه څخه روایت دی چی هغه مسجد چی د اولی ورځی نه د هغی بنیاد په تقوی سره ایخودی شوی دی دی باره کی د بنو خدره او بنی عمرو بن عوف ددوه کسانو اختلاف شو عوفی وویل ددی مسجد نه مرادنه مسجد قبا دی او خدری وویل ددی نه مراد مسجد نبوی دی دواړه د نبی علیه السلام خواته راغلل او پوښتنه یی وکړه هغه وفرمایل چی ددی نه مراد مسجد نبوی دی او دی کی ډیر خیر دی**

دلته د مجمل وضاحت اصل کی د قران وضاحت دی څه بل شی ندی

وس سوال دا پیداکیږی چی که هلک کافر وی او پلار مسلمان یا برعکس وی نو ایا دوی ته میراث میلاویږی قران دی باره کی خاموش دی

په حدیث کی ددی جواب شته دی

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ، وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ»ابن ماجه **2729**

**د اسامه بن زید رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی علیه السلام فرمایلی دی مسلمان د کافر اوکافر د مسلمان وارث نشی کیدی**

دلته د عام تخصیص کول څه بل شی ندی بلکی د قران وضاحت دی

الله تعالی فرمایی

{إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا} [الإسراء: 78]

**یقینا په فجرکی قران لوستلو ته حاضریږی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایت نه دا نه معلومیږی چی څه شی حاضریږی

په حدیث کی دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَفْضُلُ الصَّلَاةُ فِي الْجَمِيعِ عَلَى صَلَاةِ الرَّجُلِ وَحْدَهُ خَمْسًا وَعِشْرِينَ، وَتَجْتَمِعُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ» ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ: " اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: {وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا} [الإسراء: 78] "
مسند احمد **7185**

**ابو هریره رضی الله عنه فرمایی په جماعت سره مونځ کول د انفردای مونځ نه پینځیش درجی بهتر دی او دشپی فریشتی او دورځی فریشتی د سحر په مونځ کی حاضریږی ابو هریره فرمایی که تاسو غواړی نو دا ایت ولولی**

دلته د مبهم تعیین شوی چی د مشهود نه مراد د سحر په مونځ کی د ورځی او شپی فریشتی حاضریدل دي

کله چی د سورت بقره دا ایت نازل شو

{وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ} [البقرة: 187]

**خوری او څکښی تر څو چی درته ښکاره شی چی سپین تار د تور تار نه جدا شو**

**نو عدی رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه پوښتنه وکړه**

**ای د الله رسول ددینه مراد دوه تارونه دی**

**هغه وفرمایل ستا څټ به ډیر اوږد وی که تا دا دوه تارونه ولیدل بیا یی وفرمایل ددی نه مراد د شپی تورتم او د سحر سپینوالی دی**

عَدِيُّ بْنُ حَاتِمٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: {كُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ} [البقرة: 187] عَمِدْتُ إِلَى عِقَالَيْنِ أَحَدُهُمَا أَبْيَضُ وَالْآخَرُ أَسْوَدُ فَجَعَلْتُهُمَا تَحْتَ وِسَادَتِي ثُمَّ جَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهِمَا فَلَا يَتَبَيَّنُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْأَسْوَدِ فَلَمَّا أَصْبَحْتُ غَدَوْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي صَنَعْتُ فَقَالَ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**إِنْ كَانَ وِسَادُكَ إِذًا لَعَرِيضًا، وَقَالَ: إِنَّمَا ذَاكَ بَيَاضُ النَّهَارِ وَسَوَادُ اللَّيْلِ**

**مسند احمد 19370**

ددی نه معلومه شوه چې صحابه د عربی ژبې والا وو او ددی باوجود ورته غلط فهمی وشوه او هغوی مجبوره شو چې ددی ایت دصحیح مفهوم زده کولو لپاره نبی علیه السلام ته رجوع وکړی نو مونږ خو من باب اولی دی ته محتاج یو چې د نبی علیه السلام احادیثو ته رجوع وکړو

که چیرته د یو ایت دکلیه نه حدیث د یو جزوی مسالی استنباط کړی وی نو دیته بیان تفریع وایی

اوکه د قران د یو جزوی مسالی نه حدیث یوه عامه قاعده معلومه کړی وی نو دیته بیان استخراج وایی

د قران د یو ایت لپاره حدیث بیان دی او دا بیان په مختلفو شکلونوکی وی که چې ایت او حدیث دواړه یوه معنی لری نو دیته بیان تاکید وایی

که یو ایت مختلف احتمالات لری او یو حدیث د هغی د یو احتمال تعیین کړی وی نو دیته بیا تعیین وایی

که د یو ایت حکم د مقدار په لحاظ سره مبهم وی او حدیث یی وضاحت کړی وی نو دیته بیان تقریر وایی

که د یو ایت حکم مجمل وی او حدیث ورله وضاحت کړی وی دیته بیان تفصیل وایی

که دایت یو متروک مضمون یا د یوی قصی یوی ټکړی یا د دلیل یوی مقدمی لره حدیث د هغی سره میلاو کړی وی نو دیته بیان الحاق وایی

که د یو ایت د حکم وجه حدیث ظاهره کړی وی دیته بیان توجیه وایی

که د یوا ایت د یوی عامی قاعدی یو جزوی مساله حدیث بیان کړی وی دیته بیان تمثیل وایی

اوکه د ایت د حکم علت یو حدیث بیان کړی وی نو دیته بیان تعلیل وایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د ایت د حکم خصوصیات یو حدیث بیان کړی وی نو دیته بیان تاثیر وایی

که د یو ایت د حکم حدود حدیث بیان کړی وی نو دیته بیان تحدید وایی

که د یو ایت د عام حکم تخصیص یو حدیث کړی وی دیته بیان تخصیص وایی

که د یو ایت د جزوی مسالی مشابه یوه بله مساله حدیث بیانه کړی وی د مشترک علت دوجی نو دیته بیان قیاس وایی

بعضی خلک وایی مونږ احادیثو منو خو هغه احادیث نه منو چی د عقل مخالف وی نو سوال دا دی چی د چا عقل معیار او ترازو جوړول پکار دی د محدثینو عقل د فلاسفه و عقل د ډاکټر عقل د یو ساینسدان عقل که د یو عام کس عقل یو حدیث د یوکس په عقل کی راځی او د بل په عقل کی نه راځی نو وس به د چا عقل معیار منلی شی ایا په دین کی عقل معیار دی که نقل که پدی عقل سره مونږ قران ولولو اوکوم ایت چی زمونږ د عقل مطابق نه وی هغه هم نه تسلیموو

په سورت انبیای کی الله تعالی فرمایی

**{يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ} [الأنبياء: 69]**

**مونږ حکم وکړو ای اوره په ابراهیم باندی یخ او سلامتی والا شه**

نو دا خبره په عقل کی نه راځی چی اور خو د سوزولو والا شی دی نو هغه ښنګه یخ او سلامتی والا وګرځی

بعضی خلک وایی چی کوم حدیث د قران مخالف وی هغه به نه منوکه پدی نظریه سره قران مقایسه کړی شی نو مونږ وینو چی اکثر دوه ایتونه د قران د یو بل مخالف وی نو ایا پدی صورت کی به یو ایت تسلیم او بل رد کوو یا به په دواړو کی تطبیق کوو او دواړه به منو

ظاهره ده چی دواړه به منو نو دا فارمولا بیا د احادیثو لپاره ولی نه استعمالوو

الله تعالی فرمایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

{وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا} **[الفرقان: 32]**

**اوکافر وایی چی دا قران په یو ځل ولی نه نازلیږی**

او یو بل ځای کی فرمایی

{إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ} **[القدر: 1]**

**مونږ دا قران د لیله القدر په شپه نازل کړی دی**

د اولنی ایت نه معلومیږی چی قران لګ لګ په تدریج سره نازل شوی دی او ددویم ایت نه معلومیږی چی قران یو ځل نازل شوی دی مونږ په دواړو ایتونوکی تطبیق کوو او دواړه منو

دا ویل چی قران کی د هر شی تفصیل دی دی وجی نه حدیث ته حجت ویل ضروری ندی

نو سوال دادی چی الله تعالی فرمایی

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللهِ} **[الجمعة: 9]**

**ای مومنانوکله چی د جمعی په ورځ تاسو ته اواز وکړی شی نو تاسو د الله د ذکر طرفته منډی کړی**

نو تاسو مونږ ته ووایی چی د جمعی په ورځ چی کله دا اواز وکړی شی

دکوم مونځ لپاره اوازکیږی

په کومو الفاظو سره دا اوازکیږی

دکوم مونځ لپاره چی دا اوازکیږی دغه به څنګه اداکوو

نو ددی ټولو سوالونو جواب په قران کی کوم ځای کی دی

که قران کی د هر شی تفصیل وی نو مونږ ته ووایی چی د چرګ حلال دی که حرام

سپی او خر حلال دی که حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړی ته به څنګه غسل ورکوو

مړی به څنګه تیارو اوکفن به څنګه ورکوو

د جنازی مونځ به په کومه طریقه اداکوو

د نیا نوسی د حرمت په قران سره ثابت ندی نو ایا ددی ټولو سره نکاح جایز ده

نیز د نکاح کړی شوی ښځی د موجودګی په صورت کی د هغی د ترور یا د پلار د طرفه ترور سره نکاح جایز ده که نه ؟ د قران نه یی ثابت کړی

مونږ ددی ایت مفهوم دا اخلو چی  په قران کی چی څه بیان شوی دی هغه هم دالله له طرفه دی او په احادیثوکی چی د احکاموکومه شرح شوی ده دا هم د الله له طرفه ده نو د قران په متن او شرح دواړوکی د هر دینی کار تفصیل بیان شوی دی

**د تحقیق ترازو**

عام طور سره خلکوکی دا مشهوره ده چی یوکس په سندکی ډیر خلک راجمع کړی وی او ویلی یی وی چی دا د نبی علیه السلام حدیث دی او بیا خلک دیته حدیث وایی دا ډیرهستره غلطی ده د حدیث د تحقیق وسایل د سلو نه زیات دی او په هر وسیله باندی مستقل تحریری مواد موجود دی نوکله چی یو حدیث پدی ټولو مراحلو باندی تیر شی بیا هغی باندی د صحت حکم لګولی شی

د مثال په طور د علقمه په نوم باندی یو یوکس وایی چی دا یو حدیث دی او ددی سند پدی ډول دی

عن مالک عن نافع عن ابن عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم

کله چی علقمی دا حدیث پدی سند سره ذکرکوی نو هر یو اوریدونکی به پدی حدیث کی دهغه نوم ضرور اخلی او د علقمی نه مخکی حدیث یقینا معتبر دی لیکن د حدیث د صحت د حکم لپاره د علقمی باره کی تحقیق ضروری دی که د علقمی حالات موجود نه وی نو روایت به یی مجهول وی اوکه حالات یی میلاو شو نو دا به ګورو چی صادق دی که کاذب که کاذب وی نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدیث به موضوع وی اوکه صادق وی نو بیا به ګورو چی ذهن خو یی کمزوی نه دی که دا عیب موجود وو نو حدیث به یی قابل قبول نه وی که ددی جرح نه هم خلاص وو نو بیا به وکتل شی چی د امام مالک نور شاګردان هم دا حدیث روایت کوی یا نه که معلومه شوه چی د علقمی نه علاوه نور شاګردان د هغه خلاف روایت کوی نو د علقمی روایت به شاذ وی

ددی مثال نه دا معلومه شوه چی د یو دروغجن راوی د محدثینو دجرح او تحقیق نه بچ کیدل څومره مشکل دی لهذا کله چی محدثین یو حدیث ته صحیح ووایی هغه به یقینا صحیح تصورکولی شی

# د خبر واحد حجیت د قران څخه

**{وَجَاءَ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَى}**

**او یوکس د ښار د لری حصی څخه په منډو راغلو**

فکر وکړی چی موسی علیه السلام ددی یوکس په خوله باندی دکور نه د مدین په طرف هجرت وکه

**{وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ} [النمل: 22]**

**او ماتاته د سبا د ښار نه یو یقینی خبر راوړی دی**

پدی مذکوره ایت کی د هدهد خبر ته قران یقینی وویل ددینه معلومیږی چی کله خبر واحد محتف بالقراین وی نو د یقین فایده ورکوی

**د خبر واحد حجیت د حدیث څخه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

«إِنَّ بِلَالًا يُؤَذِّنُ بِلَيْلٍ، فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى تَسْمَعُوا أَذَانَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ»
مسند احمد **4551**

**((عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی بلال دشپی اذان ورکوی تاسو خوراک څښکاک جاری ساتی تر دی چی ابن ام مکتوم اذان وکړی))**

د امام بخاری فقاهت ته وګوری هغه ددی حدیث نه د خبر واحد د حجیت لپاره استدلال کوی د استدلال وضاحت دادی چی مونځ یو افضل عبادت دی ددی لپاره د یوکس په اذان سره مسجد ته راتګ لازمی ګرځول شوی دی نو په نورو معاملاتوکی د یوکس خبر ولی نشی تسلیمولی

**د احادیثو د حفاظت عملی اهتمام**

منکرین حدیث په ډیر زور او شور سره یو بل اعتراض کوی که چیرته د حدیث په دین کی دومره مقام وی او په دینی معاملاتوکی دیته یو د مستقل حجت په طور مقام حاصل وی نو نبی علیه السلام به د حدیثو د لیکلو همدومره اهتمام کړی وی لکه څومره چی د قران د لیکلو اهتمام یی کړی وو

نو دکوم شی چی په قلم سره د لیکلو باقاعده التزام نه دی شوی هغی ته د همیشه لپاره واجب الاتباع قانون درجه څنګه ورکولی شی

ددی اعتراض جواب دادی چی د یو شی د واجب الاتباع کیدو لپاره ضروری نده چی هغه به مکتوب او محرر وی ( لیکلی شوی به ویی ) ځکه د قران وحی هم تحریری نه وی بلکی زبانی به نازلیده لکه ددی ایت نه ظاهره ده

**{لا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ به إن علينا جمعه وقرآنه}** .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ته پدی سره خپلې ژبې ته حرکت مه ورکوه دی لپاره چې جلدی یې حاصل کړی**

یعنی جبریل به نبی علیه السلام ته قران وراوروو او نبی علیه السلام به فورا یادوو بیا به نبی علیه السلام د خپلی حافظی نه هغی املا کوله او ظاهره ده چې د نزول اوکتابت مابین کی به دومره وقفه ضرور وه چې د وحی حفاظت به صرف په قرات او حافظی باندی وو

نیز حدیث د نبی علیه السلام د قول فعل او تقریر نوم دی

البته د قول معامله داده چې نو ددی د یادولو ضرورت دی

او د صحابی ژبه عربی وه او د هغوی حافظه انتهایی قوی وه د حدیثونو یادول د هغوی لپاره مشکل نه وو او د نبی علیه السلام د فعل معامله داده چې د هغی د یادولو ضرورت نشته پدی باندی عمل کول کافی وو لکه مونځ به څنګه اداکولی شی ددی ټول کیفیت به د عمل په واسطه یادیده

البته د تقریر رسول معامله نو د هغی د زده کولو هم ضرورت نه وو ځکه دا هغه واقعات وو چې د نبی علیه السلام مخی ته به پیخیدل او هغی به پری خاموشی اختیاروله

نیز د احادیثو نه دا هم معلومه ده چې د صحابه وو په دورکی به احادیث لیکل کیدل پدی سلسله کی مشهورکتابونه دادی

صحیفه علی صحیفه وایل بن حجر صحیفه سعد بن عباده صحیفه جابر بن عبدالله صحیفه انس بن مالک صحیفه عبدالله بن عباس صحیفه صادقه صحیفه عمرو بن خطاب صحیفه عثمان صحیفه عبدالله بن مسعود مسند ابو هریره روایات عایشه صحیفه عمرو بن حزم صحیفه صحیحه د ابو هریره

خلاصه دا شوه چې د حدیث د حفاظت دری طریقی اختیارکړی شوی وی

**۱کتابت لیکل**

**۲ حفظ په یادو یادول**

**۳ تعامل یعنی د زندګی په هره شعبه کی په احادیثو د عمل اهتمام کول**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دری طریقی د نبی علیه السلام د زمانی نه تر وسه پوری په تسلسل سره جاری دی

د ډیرو هغه احادیثو چی معمول بها دی د متن په اعتبار سره د هغی تعداد تقریبا یو لک دی او د اسانیدو او طرقو په لحاظ سره تقریبا دری لاکه دی او په حجه الوداع کی د صحابه کرامو تعداد تقریبا یو لاک خلور خلویښت زره وو ددی نه پس نبی علیه السلام دری میاشتی ژوندی وو پدی عرصه کی د صحابه په تعدادکی څومره اضافه وشوه پدی حساب سره د یو صحابی په حصی کی خو یو حدیث هم نه راځی

# د نبی علیه السلام په زمانه کی د حدیث د لیکلو ثبوت

**د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایی ما به هر هغه څه لیکل چی د نبی علیه السلام د خولی نه به می اوریدل دی لپاره چی زه یی یادکړم نو قریشو زه منع کړم او ویی ویل ته د نبی علیه السلام نه هر څه لیکی حالانکه هغه انسان دی کله په غصه کی خبره کوی اوکله خوشحالی کی نو ما لیکل بس کړل او نبی علیه السلام ته می ددی خبر ورکه نو نبی علیه السلام خپلی خولی طرفته اشا ره وکړه او ویی فرمایل لیکه په هغه ذات می دی قسم وی چی زما ځان د هغه په لاس کی دی ددی ژبی نه د حق نه علاوه بل څه نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**راوځی**

البته دا روایت

**عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَكْتُبُوا [ص:251] عَنِّي شَيْئًا إِلَّا الْقُرْآنَ، فَمَنْ كَتَبَ عَنِّي شَيْئًا غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ»**

مسند احمد 11158

**د ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ما نه هیڅ مه لیکی او چا چی زما نه د قران نه علاوه بل څه لیکلی وی هغه دی وران کړی او زما څخه احادیث بیانوی او چا چی قصدا په ماباندی دروغ وویل نو جهنم کی دی ځانله ځای جوړ کړی**

پدی حدیث کی نبی علیه السلام فرمایلی دی چی زما نه د قران نه علاوه بل څه مه لیکی د نبی علیه السلام دا حکم عارضی وو دی لپاره چی قران او حدیث کی ګډوډوالی رانشی

وحدثوا عن بنی اسرایل د حدیث دا تکړه د هغه اسرایلی روایاتو باره کی ده چی مسکوت عنها وی یعنی هغه اسرایلی روایات چی نه یی زمونږ په شریعت کی تصدیق موجود وی او نه تکذیب لیکن کوم اسرایلی روایات چی د شریعت مخالف وی هغه به مرودود وی

منکرین حدیث احادیث پدی وجه نه منی چی دی کی اختلاف دی که وکتلی شی نو داسی اختلاف او تعارض خو قران کی هم شته

قران کی الله فرمایی

**{الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ، وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ، وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يَكْسِبُونَ} [يس: 65]**

**نن به مونږ ددوی په خولو باندی مهر ولګوو او ددوی لاسونه به مونږ سره خبری کوی او ددوی ښپی به ګواهی ورکوی**

او يو بل ايت کی دی

**{يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} [النور: 24]**

**کومه ورځ چی ددوی خلاف به ددوی ژبی لاسوه او ښپی ګواهی ورکوی د هغه ګناهونو په سبب چی دوی کړی دی**

په اولنی ايت کی دی چی په خولی باندی د مهر لګولو په وجه به ژبته بنده شی او دويم ايت کی دی چی ژبی به ګواهی ورکوی نو سوچ وکړی کله چی ژبه بنده وی نو هغه به ګواهی څنګه ورکړی

# د (تبيانا لكل شيئ) مفهوم

کله چی قران کی د هر شی وضاحت موجود دی نه حديث ته څه ضرورت دی د قران ددی ايت مفهوم دادی چی قران کی چی څه بيان شوی دی هغه د الله له طرفه دی او احاديثوکی چی د احکامو څه شرحه ده هغه هم دالله له طرفه ده نو د قران متن او شرح دواړو کی د دين د امورو تفصيلی بيان موجود دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د( تفصیلا لکل شیئ) مفهوم

یو اشکال دا هم دی چی کله قران کی د هری مسالی تفصیل شته نو حدیث ته څه ضرورت دی

ددی ایت صحیح مطلب دادی چی قران ددین بنیادی او مهم مسایل بیان کړی دی او ددی یی خه وضاحت کړی دی چی اشتباه او شک پاتی نشی لیکن دلته دکل لفظ د استغراق لپاره ندی چی ټولو افرادو ته شامل وی بلکی د د هغه کل پشان دی چی د سورت نمل پدی ایت کی دی

هغی ته هر شی ورکړی شوی وو

یعنی د سبا مالکی ته هر شی ورکړی شوی وو یعین د بادشاهی هر هغه شی ورکړی شو وو چی د بادشاهی سره یی تعلق وو ځکه چی د سلیمان علیه السلام سره د بادشاهی لوازمات د دی ښځی نه ډیر وو

# د احادیثو په موضوع والی او ضعیف والی باندی اعتراض

منکرین حدیث دا اعتراض په ډیر شور او زور سره کوی چی بعضی احادیث خو موضوع دی او بعضی ضعیف حالانکه قران کی دارنګه څه اختلاف نشته د دی هیڅ ایت موضوع یا ضعیف ندی

دی وجی نه د حدیث مواد صرف دا نه چی غیر مکمل دی بلکی د تحریف او تبدیلی نه خالی ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی جواب ددای چی د حدیث په کتابونوکی مختلف قسم احادیث شته دی لیکن ددی دا مطلب ندی چی هغی مابین کی امتیازکول ممکن ندی دکوم کس چی د حدیثو د فن سره معمول شان اشنایی وی هغه ته دا پته لگی چی محدثینو د احادیثو یوه غټه حصه د ضعیفو او موضوع احادیثو نه جدا کړی ده او هغوی د جر ح او تعدیل هغه ټول اصول هم بیان کړی دی چی هغی سره هغوی د احادیثو چاڼ بین کړی دی

ددی فنی تحقیق مثال په دنیا کی هیڅ قوم نشی پیش کولی ددی په رڼا کی هر علم لرونکی کس ته پته لگی چی د احادیثو د صحت او ضعف فیصله د دلایلو په بنیاد شوی ده که د محدثینو ددی کارنامی نه بغیر د احادیثو ذخیره مونږ ته رارسیدلی وی او مونږ ته د صحیح او ضعیف د جدا کولو څه طریقه نه وی معلومه نو دا به یو باعث تشویش کار وی

لیکن په موجوده صورتحال کی د پریشانی ضرورت نشته او بیا د اطمینان خبره داده چی دکومو احادیثو په صحت یا ضعف باندی د امت اتفاق دی د هغه تعداد د هغه احادیثو مقابل کی ډیر زیات دی چی د هغی په صحت او ضعف کی اختلاف دی

وس که یوکس د لگ مقدار په وجه چی شبهه پکی ده ټوله ذخیره ساقط الاعتبار وگڼړی نو دده مثال به د هغه کس وی چی په خپله خزانه کی یو څوکوټه شوی روپی ووینی او ټوله خزانه برباده کړی یا په بازارکی یو څو جعلی نوټونه ووینی او ټوله ملکی خزانه خرابه کړی ایا یو زیرک کس دداسی اقدام کولوکوشش کولی شی

# امام بخاری معصوم نه وو

منکرین حدیث یو دا اعتراض کوی چی امام بخاری معصوم نه وو لهذا د هغه نه د غلطی کیدل ممکن دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی جواب دا دی چی د غلطی په امکان او واقع کیدو کی غټ فرق دی امکان بیل شی دی او واقع کیدل بیل ممکنه ده چی ته غل یی لیکن بغیر د ثبوت نه دا ویل چی ته غل یی جایز نده

امام بخاری کوم ځای کی غلطی کړی ده دا ثابت کړی

لګ سوچ وکړی نبی علیه السلام قران په خپلو لاسونو سره ندی لیکلی د لیکلو او جمع کولو والا صحابه کرام وو او صحابه هم معصوم نه وو لهذا د هغوی نه هم  غلطی کیدل ممکن وو

فما هو جوابکم فهو جوابنا

# په بخاری کی د بدعتی راویان د وجود اشکال

منکرین حدیث وایی چی صحیح بخاری کی بدعتی راویان دی لهذا د بدعتی راویانو روایات څنګه قبلولی شی ؟

ددی جواب دادی چی بدعات ټول یو درجه نه لری الله تعالی فرمایی

**{إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا} [الحجرات: 6]**

**ای مومنانوکله چی تاسو ته یو فاسق کس خبر راوړی تاسو د هغی تحقیق وکړی**

غور وکړی چی د فاسق د فسق په وجه چی کومه بی اعتباری ده د تحقیق نه پس هغه لری کیږی

۱ که د راوی بدعت داسی وی چی د هغی په وجه هغه د اسلام نه خارج شوی وی نو رویات یی قبول ندی ځکه د روایت قبلولو لپاره اسلام شرط دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ که یو راوی ددین په معامله کی ددشمنی اظهار وکړی او د مسلمانانو سره عنادکوی او د خواهشاتو په تابعداری کی د حد نه تجاوز وکړی نیز د حق د لایلو نه اعراض وکړی چی ددی خبری دلیل دی چی ددی کس دینداری کمه ده لکه شراب څکښل سود خوړل وغیر نو داسی راوی عادل ندی دداسی راوی روایت قبول ندی ځکه د روایت قبلولو لپاره عدالت شرط دی

۳ که یو راوی دروغ حلال ګڼړی یا فاسق که دا کار د عذر د وجی نه کوی بیا هم د روایت قبلولو لپاره صدق شرط دی او دلته صدق نشته دی وجی نه دداسی راوی روایت قبول ندی

۴ داسی بدعتی راوی چی اهل علمو د هغه باره کی ترددکړی وی د هغوی په نزد د هغه کفر یا فسق واضح نه وی او نه یی ورله تعدیل کړی وی نو ددی روایت هم غیر مقبول دی

۵ که بدعتی راوی خپل بدعت ته دعوت ورکوی او د هغی نشر او اشاعت کوی او دهغه د بدعت تعلق دهغه بدعت سره وی چی د محدثینو اتفاق وی چی دا بدعت دی نو دداسی راوی روایت قبول ندي

البته هغه بدعتی چی خلکو ته د بدعت طرفته دعوت نه ورکوی ددی دوه صورتونه دی که د هغه عدالت ثابت وی نو روایت به یی قبول وی لیکن که عدالت یی ثابت نشی روایت به یی مردود وی

دا یو څو شرایط د معلمی په التنکیل کی موجود دی

# د صحیح بخاری په بعضی احادیثو باندی د اعتراضاتو جواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ حَفْصٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ، يَقُولُ: دَخَلْتُ أَنَا وَأَخُو عَائِشَةَ عَلَى عَائِشَةَ، فَسَأَلَهَا أَخُوهَا عَنْ غُسْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَدَعَتْ بِإِنَاءٍ نَحْوًا مِنْ صَاعٍ، فَاغْتَسَلَتْ، وَأَفَاضَتْ عَلَى رَأْسِهَا، وَبَيْنَنَا وَبَيْنَهَا حِجَابٌ» قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: قَالَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَبَهْزٌ، وَالجُدِّيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، «قَدْرِ صَاعٍ»صحيح البخاري 251**

**عبدالله بن محمد بیان‌کوی چی هغه ته عبدالصمد حدیث بیان‌کړی دی هغه فرمایی ابو سلمه فرمایلی دی چی زه او د عایشه رضی الله عنها ورور د عایشی رضی الله عنها خواته لاړو د هغی ورور د هغی نه پوښتنه وکړه چی نبی علیه السلام به څنګه غسل‌کولو عایشه رضی الله عنها د اوبو نه ډک لوخی راوغوښته چی د هغی نه یی غسل وکړو او په سر باندی یی اوبه واچلی او په درمیان‌کی یوه پرده راځوړنده وه**

سوال دا دی

چی ایا دی دواړو عایشه ته کتل‌کله چی هغی غسل‌کوو؟ جواب دادی چی نه د غسل دکیفیت د بیانولو لپاره عایشه رضی الله عنها غسل ونه‌کړ بلکی هغی د اوبو د مقدار ذکر وکه نو ابو سلمه او نورو ملګرو تعجب وکړو چی دومره‌کمو اوبو باندی څنګه غسل‌کیږی نو عایشه رضی الله عنها وفرمایل چی دا بالکل ممکن ده او وګوری زه وس د لمبلو لپاره څم او په همدومره اوبو به غسل کوم ددی نه پس هغی پرده واچله او غسل یی وکه او دا یی ثابت‌کړه چی په دومره اوبو باندی غسل ممکن دی ددی مفهوم دلیل دادی چی امام بخاری پدی حدیث باندی داسی باب تړلی دی الغسل بالصاع ونحوه

د امام بخاری تبویب د منکرین حدیث ددی غلط فهمی د ازاله‌کولو لپاره‌کافی دی

نیز د غسل مطلب صرف د لمبا ندی بلکی ددی مطلب‌کله د لمبلو اوبه هم وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ وَسَمَّاهُ فُوَيْسِقًا»**

**عامر د سعد نه روایت کوی هغه فرمایی نبی علیه السلام د چرمخکی د مرګ حکم کړی دی او هغی ته یی فاسقه ویلی دی**

د چرمخکی د قتل سبب دادندی چی دی د ابراهیم علیه السلام باندی بل شوی اور ته پوکی کړی وو بلکی پدی حدیث کی ددی سبب بیان شوی چی دا زهریلا شی دی

نیز بعضی حیوانات فطرتا شریف وی او بعضی فطرتا خبیث لکه لړم چرمخکی وغیره

نو د ابراهیم علیه السلام اور ته پوکی کول ددی د مزید خباثت دلیل دی

او دا هم ویل کیدای شی چی الله پوهیږی چرمخکی څنګه پوکی کړی دی ځکه د الله په علم کی هغه خبری دی چی زمونږ علم کی نشته او دا هم د قران نه ثابته ده چی هر شی دالله تسبیح بیانوی لیکن دا شیان څرنګه تسبیح بیانوی زمونږ په فهم او سوچ کی دا خبره نه راځی چی څرنګه چرمخکی په یو بدکارکی حصه واخلی الله تعالی ته ددی بهتر معلومات دی

۳ عایشه رضی الله عنها فرمایی چی سهله بنت سهیل د نبی علیه السلام خواته راغله او ویی ویل چی کله سالم زمونږکور ته داخل شی نو زه د ابو حذیفه په مخ باندی د خفګان او غصی اثرات وینم نو نبی علیه السلام وفرمایل ته سالم ته خپل شیده ورکړه هغی وویل زه هغی ته څنګه خپل پی ورکړم هغه ماشوم ندی بلکی د غټ عمر خاوند دی نو نبی علیه السلام موسکی شو او ویی فرمایل ماته پته ده چی هغه ځوان دی

د مذکوره حدیث نه معلومه شوه چی د ابو حذیفه ښځی سالم ته خپل پی ورکړی دی

ددی جولاب دادی دی چی په اسلام کی د سخت ضرورت خیال ساتلی شوی دی لکه د حیض په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځوکی ښځی ته مونځ معاف دی البته جنګ کی مونځ معاف ندی سالم چونکه د ماشوم والی نه د ابو حذیفه کور ته راته په کورکی بل څوک نه وو لهدا د مجبوری په وجه ورته دا اجازت میلاو شو دا د هغه لپاره خاص دی

بعضی علما وایی دا حدیث منسوخ دی نیز ددی حدیث نه دا هم معلومه ده چی سهله سالم ته داسی طریقی سره پی ورکړی دی لکه څنګه چی ماشوم ته ورکولی شی

اوکیدای شی چی څه لوخی کی یی پی اچلی وی او بیا یی ورکړی وی

## د قبر عذاب

د منکرین حدیث یو اعتراض دادی چی که د قبر عذاب ومنل شی نو دینه دری زندګیانی او دری مرګونه لازمیږی حالانکه قران کی ددوه مرګونو او زندګیانو ذکر دی لکه الله تعالی فرمایی

او دوی به وایی ای زمونږ ربه تا مونږ دوه ځله ژوندی او دوه ځله مړه کړو

ددی جواب دادی چی قران کی ډیر داسی واقعات دی چی هغی کی دا ذکر ده چی مړی دوباره ژوندی شوی دی

لکه د عیسی علیه السلام په لاس د مړو راژوندی کیدل

په سورت بقره کی د عزیر علیه السلام او د هغه د خر راژوندی کیدل او د څلور مرغانو د ژوند تذکره

نو ایا دا دریمه زندګی ده

البته دا صحیح ده چی قران کی داشته چی د قیامت نه مخکی د خلکو دوباره راژوندی کیدل ممکن ندی او نه کوم مسلمان دا عقیده لری

نیزکه د اهل قبور لپاره د دنیا او د اخری د زندګی مابین کی یوه زندګی تسلیم کړی شی نو دی کی څه حرج دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثبوت پدی ایت کی دی

هغوی به وایی افسوس مونږ چا د خپلو قبرونو نه راپاڅولو

رقود خوب او مرقد د خوب ځای ته وایی ددی نه معلومه شوه چی قبرکی د مړی کیفیت د خوب والا پشان وی دی کی د زندګی پوره احساس او د مرګ مکمل بی حسی نه وی بلکی دا یو بین بین کیفیت دی

پدی بحث کی یو ضمنی سوال دا هم دی چی د قیامت نه مخکی بدله اغستل د انصاف خلاف دی

ددی جواب دادی چی که د قیامت نه مخکی د بدلی اغستل تسلیم نکړی شی نو دا سوال پیدا کیږی الله تعالی د قیامت نه مخکی په دنیا کی هغه بدو قومونو ته ولی سزا ورکړه ؟

## (د ثلاث کذبات والا حدیث)

د منکرین حدیث یو اعتراض دا هم دی چی ابراهیم علیه السلام ته الله په قران کی صدیق ویلی دی او په صحیح بخاری کی د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چی ابراهیم علیه السلام دری ځل دروغ ویلی دی

په حقیقت کی دیته توریه وایی یعنی داسی خبره چی مجازا دروغ وی مګر حقیقت کی رینښتیا وی که وکتل شی نو د ابراهیم علیه السلام دداسی قسم دروغو تذکره په قران کی هم شته دی

نو هغوی وویل زه بیمار یم

یو خو داده چی هغه بیمار وو مګر هغه وویل زه بیمار یم

دویم دا چی هغه پخپله باندی بوتان مات کړی وو او بیا یی ویلی وو چی دا دی غټ بوت مات

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی دی

هغه وویل چی نه بلکی ددی بوتانو مشر دا کارکړی دی

دریم دا چی هغه چی کله ستوری سپوږمی او نمر ته وکتل نو ویلی یی وو دا زما رب دی

ایا دی شیانو ته د ابراهیم علیه السلام رب ویل دروغ ووکه ریښتیا

وس چی منکرین حدیث ددی ایتونوکومه توجیه کوی هغه دی ددی قسم احادیثو هم وکړی

په حقیقت کی په حدیث کی د حقیقی دروغو تذکره نده بلکی دی کی مجازی دروغ ذکر دی کوم ته چی توریه وایی دی کی ظاهری خبری صورت ددروغو وی مګر پدی باندی څه ګناه نشته البته غټ خلک ددی د ویلو نه هم شرم محسوسوی

**د شادوګانو د زناکاری باره کی حدیث**

امام بخاری په صحیح بخاری کی په کتاب مناقب الانصارکی د خپل استاذ نعیم نه داس روایت کوی

عمرو بن میمون وایی د د جاهلیت په دورکی ما لیدلی وو چی یو یوی شادو چی زنا یی کړی وه نور شادوګان پری راټول شوی وو او سمساروله یی ما ورسره هم سمسارکړه

منکرین حدیث پدی حدیث باندی اعتراض کوی او دی باندی مسخری کوی چی ایا په شادوګانو هم د نکاح طلاق او حدودو نظام نافذ دی

اول جواب دادی چی دغه شادوګان نه وو بلکی جنات وو او د شادوګانو شکل یی اختیارکړی وو او جنات هم مکلف دی

په تورات کی د رجم حکم وو او په قران سره هم دا ثابت دی د جناتو یو جماعت د شریعت موسی پابند وو

دویم جواب دادی چی که شادوګانو دغی شادو ته دهغی د بدکاری په وجه په کاڼو سره وژلی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو الله په مخلوقاتوکی دا څه د تعجب خبره ندی چی عقل یی نه قبلوی حالانکه ماهر عمرانیات دا تصریح کړی ده چی د شادو د جسم سره سره په سوچ کی هم د انسان پشان ده او په حیواناتوکی د غیرت وجود تسلیم شوی خبره ده هغوی ته هم غیرت رائحی

پدی واقعه کی نصیحت دادی چی انسان باید غیرتی وی ځکه پدی معامله کی ځناور هم وروسته ندی او د رجم سزا یوه فطری سزا ده چی کله یو حیوان د نفسی پاکوالی لپاره رجم کیدای شی نو د ایا د انسان لپاره دا سزا مناسبه نده ؟

دریم جواب دادی چی امام بخاری ددی حدیث تذکره د حیوان د مکلف والی لپاره نده کړی بلکی دی لپاره یی کړی چی ثابت کړی عمرو بن میمون مخضرم دی او ددی تایید ددینه کیږی چی امام بخاری په التاریخ الکبیرکی دا روایت د عمرو بن میمون د ترجمه نه لاندی ذکرکړی دی او اهل فن ددی نه ښه واقف دی د تراجم په کتابونوکی د احادیثو ذکرکول د ترجمی متعلق وی

## په نبی علیه السلام باندی جادو او ددی نوعیت

د نبی علیه السلام د سحر باره کی دا خبره مشهوره ده چی دا واقعه بخاری کی ده لهذا ددی انکار د قران نه انکار دی الله فرمایی

که الله تاته څه ضرر ورسوی نو د هغه ختمونکی د الله نه علاوه بل څوک نشته

ددی ایت نه په نبی علیه السلام باندی د ضرر واقع کیدو امکان ثابت دی او سحر هم یو ضرر دی او د سحر د ضرر والی دلیل پخپله په قران کی ذکر دی

الله فرمایی

او دا جادوګر پدی سره چاته ضرر نشی ورکولی مګر د الله په حکم او دوی هغه څه زده کوی چی دوی ته ضرر ورکوی نه نفع

د ایت دواړه ټکړی بیانوی چی سحر یو ضرر دی البته دا ضرور شته چی سحر په څو قسمه دی یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دی چی په عقل تمیز او زړه باندی اثرکوی دویم د هغی اثر په ظاهری بدن وی او په نبی علیه السلام باندی دا دویم قسم جادو شوی وو قاضی عیاض فرمایی

د جادو اثر د هغه په ظاهری بدن باندی شوی وو نه د هغه په زړه اعتقاد او عقل باندی

ددی نه معلومه شوه چی سحر یو مرض وو لکه څنګه چی نورو مرضونوکی نبی علیه السلام مبتلا شوی وو په سر یی درد راغلی وو تبه یی راغلی وه د زهرو اثر پری شوی وو نو دغه شان یو ځل د سحر په بیماری هم مبتلا شوی وو او دا ټول بشری تقاضی دی

علامه بن قیم فرمایی د خلکو یو جماعت ددی واقعی نه انکارکوی او وایی چی نبی علیه السلام باندی د جادو واقعه تسلیمول جایز ندی دا خلک دا واقعه عیب ګڼړی حالانکه معامله داسی نده لکه څنګه چی دوی فکرکوی بلکی سحر د هغه بیماریانو د جنس نه دی چی نبی علیه السلام باندی راغلی وی لکه څنګه چی هغه باندی د زهرو اثر شوی وو دغه شان د سحر هم دی دواړو کی فرق نشته

او د دی خبری ثبوت پخپله بخاری کی شته چی سحر یو مرض دی په بخاری کی دی چی ددوه فریشتو نه یوی فریشتی پوښتنه وکړه ددی کس ( نبی علیه السلام ) څه بیماری ده ؟

نو دویمی فریشتی وویل پدی باندی جادو شوی دی

په مختار الصحاح کی دی الوجع المرض او دطب لفظ د اضدادو څخه دی ددی معنی مرض او دوایی دواړه دی او د جادو په معنی هم راځی نو معنی دا شوه چی ده ته د سحر بیماری ده

په یو بل روایت کی دی نبی علیه السلام فرمایی الله تعالی ماته شفا راکړه

او ظاهره ده چی شفا د مرض نه وی ځکه د مرض ضد شی شفا ده او ظاهر ده چی د مرض په وجه په عصمت او تبلیغی کارونو باندی څه اثر نه کیږی لکه خوب تبه یا عارضی نسیان وغیره چی په تبلیغ ددین باندی اثر نکوی دغه شان سحر هم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسحور

د نبی علیه السلام په حق کی چی دی ایت کی د مسحور لفظ استعمال شوی دی تاسو صرف د مسحور کس تابعداری کوی

نو پدی سره په نبی علیه السلام باندی د سحر واقع کیدو تسلیمول دکفارو ددی قول تصدیق کول دی

د اول سوال دوه حصی دی

۱ د لفظ مسحور تحقیق چی قران کی راغلی دی

۲ د نبی علیه السلام باندی د جادو اثر او د هغی حقیقت

دا واضحه ده چی د نبی علیه السلام باره کی د مسحور لفظ په سورت بنی اسرایل او فرقان کی راغلی دی

زما ددی مساله باره کی تحقیق دادی چی قران د عربو د محاوری مطابق نازل شوی دی او عرب کله د اسم مفعول لپاره اسم فاعل استعمالوی لکه خپله قران کی شته عیشه راضیه په معنی د مرضیه ماید ه په معنی د ممدوه

دغه شان کله د اسم فاعل لپاره اسم مفعول استعمالوی لکه ملک مرطوب مکان مهول د ویری ورکونکی ځای جاریه مغنوجه د ناز والا جینی

په قران کی ددی مثال حجابا مستورا دی اخفش وایی مستور دلته د ساتر په معنی باندی دی اسم فاعل کله د مفعول په معنی باندی استعمالیږی لکه مشوم د شایم په معنی او میمون د یامن په معنی استعمال شوی دی

دغه شان پدی دوه مقاماتوکی مسحور په معنی د ساحر دی او ددی دلایل په لاندی ډول دی

۱ په عام طور سره به د مکی کافرو نبی علیه السلام ته ساحر ویل نه مسحور سورت یونس کی راځی چی دوی د نبی علیه السلام باره کی ویل لساحر مبین او سورت ص کی ساحرکذاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ په سورت بنی اسرایل کی هم د فرعون خبره د موسی علیه السلام باره کی داسی نقل ده یقینا ای موسی پتا باندی زماګمان دادی چی جادو درباندی شوی دی

حالانکه په ټول قران کی د فرعون خبره د موسی علیه السلام باره کی ذکر ده او هغه دا چی هغه ته به یی ساحر ویله په سورت اعراف او شعرا کی لساحر علیم لفظ دی

سورت مومن کی لساحرکذاب راغلی سورت ذاریات کی ساحر او مجنون راغلی سورزخرف کی ایها الساحر راغلی دی

سورت طه کی راغلی بسحرک یا موسی او ان هذان لساحران

سورت طه کی راځی انه لکبیرکم

نوکله چی فرعون او د هغه ملګرو موسی علیه السلام ته ساحر ویل نو په سورت بنی اسرایل کی د فرعون قول د موسی باره کی چی دا مسحور دی دا به د ساحر په معنی وی دغه شان دکفارو دنبی علیه السلام باره کی دا ویل چی رجلا مسحورا دا به هم د ساحر په معنی وی د فرا نحوی هم دا موقف دی چی دلته مسحور په معنی د ساحر دی

په تفسیرکبیرکی دی فرا وایی

مسحور د ساحر په معنی دی لکه موم او میمون

نوکله چی مسحور د ساحر په معنی شو نو هغه حدیث چی هغی کی دی نبی علیه السلام باندی جادو شوی وو دد ی ایت مخالف ندی او نه ددی په منلو سره سړی کافرکیږی اوکه څوک د عربو د محاوری سره ناشنا وی او ددی دری دلایلو منلو ته اماده نه وی نوکم ازکم هغه له خپله اصطلاح منل پکار دی او هغه دا چی دلته د مسحور معنی دا نده چی جادو پری شوی دی بلکی داده چی د جادو علم ورکړی شوی دی

او همدا مراد امام جریر طبری هم اغستی دی هغه فرمایی

د مسحور معنی داده چی تاته جادو درکړی شوی دی او دا عجاییات ددغی جادو نتیجه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ نیزکافرو نبی علیه السلام ته بشر هم ویلی دی

هغوی وایی ایا الله تعالی یو بشر د پیغمبر په طور رالیږلی دی

هغوی وویل ایا بشر به زمونږ رهنمایی کوی

لهذا دا ایت ووایه چی زه ستاسو په شان یو بشر یم

او حدیث زه ستاسو پشان یو بشر یم ما باندی نسیان راځی لکه څنګه چی تاسو باندی نسیان راځی

ددی نه د نبی علیه السلام بشرتوب ثابتیږی نو ددی نه هم دکفارو د قول تاییدکیږی بیا خو دا حدیث هم منل ندی پکار

۴ کفارو نبی علیه السلام ته رسول هم ویل

هغوی وویل ایا الله تعالی یو بشر د رسول په طور رالیږلی دی

او هغوی وایی دی رسول له څه وجه ده چی خوراک کوی او څمکه کی ګرځی

نو دا ایت چی محمد د الله رسول دی او دا حدیث چی زه ګواهی ورکوم چی محمد د الله رسول دی ددی دواړو نه هم د نبی علیه السلام رسالت ثابت دی

نو ددی دوه ایت او حدیث په منلو سره دکفارو د قول تاییدکیږی لهذا بیا دا هم منل ندی پکار

۵ کفارو د نبی علیه السلام باره کی ویلی وو چی هغه روټی خوری نو الله ددی ټولو خبرو باره کی وفرمای وګوره دوی ستا لپاره کوم مثالونه بیان کړل نو دوی ګمراه شول او سمی لاری ته نه راځی

لهذا دا ایت چی دواړو به روټی خوړله او حدیث

ابو ایوب رضی الله عنه فرمایی چی نبی علیه السلام ته روټی راوړل شوه نو هغه وخوړه ددی نه د نبی علیه السلام روټی خوړل ثابت شو

ددی نه چونکه دکفارو د قول تصدیق کیږی چی الله ورته ضلالت ویلی دی لهذا دا ایت او حدیث قابل قبول نه دی که نه وی نو بیا خو دکفارو الزام ته غلط ویل صحیح ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نبی علیه السلام باندی د جادو واقعه باره کی دا ویل چی د قران خلاف ده یوه غلط فهمی ده
شهباز حسن

کوم احادیثوکی چی راغلی دی چی نبی علیه السلام باندی جادو شوی منکرین حدیث دی احادیثو ته د قران خلاف وایی پدی باندی دا عنوان تړی چی اصل خبره خو هغه وی چی د قران خلاف نه وی اوکله دا عنوان تړی په نبی علیه السلام باندی د جادو په سلسله کی د بخاری تفصیل او د قران تردید

او ددی کوشش کوی چی مونږ خو مخالفین لاجواب کړی دی لهذا هغوی زمونږ د خبری په منلو باندی مجبور دی

لکه دا دهغوی ددی عنوان نه ظاهر ده کله چی دلیل د قران مخالف وی نو هغه بیا نخلی

د سورت بنی اسرایل د ایت ۴۷ په وضاحت کی منکرین حدیث پدی باندی ډیر زور راوړی چی دا دکفارو قول دی قران خپله دا وایی چی دا دکفارو قول دی

ددی په وجه دوی دا خبره بیانول غواړی چی کفارو به نبی علیه السلام ته مسحور ویل او حدیث کی هم راغلی چی هغه مسحور وو نو دی سره دکفارو د قول موافقت راځی غلام احمد د خلکو نه پوښتنه کوی زما محترمو تاسو ته معلومه ده چی دا عقیده دکوم ځای نه راغلی ده بخاری کی د نبی علیه السلام متعلق حدیث موجود دی چی معاذ الله یو یهودی په هغه باندی جادوکړی وو او هغه باندی د جادو اثر شوی وی هغه پدی کیفیت کی وو چی هیر به وو ترینه چی ما څه کارکړی دی تر دی چی دا به ورته هم یاد نه وو چی ما مونځ کړی که نه هغه باندی چا جادوکړی وو قران ددی نفی کوی دا دکفارو وینا وه زما محترمو ستاسو په نزد بخاری یو معتبرکتاب دی او هغی کی دا دی چی نبی علیه السلام باندی جادو شوی وو او ډیر تفصیل سره دا خبره موجود ده چی څنګه جادو شوی وو د هغه کیفیت څنګه وو معاذ الله هغه رجل مسحور ګرځیدلی وو

بیا دا تفصیل چی څنګه ورته پته ولګیده څنګه یی خلک هلته ولیږل او دکوهی نه یی جادو راویسته او بیا یی اثر زایله شو د اتول تفصیل بخاری کش ته او دلته قران دا وایی چی کافرو به د نبی علیه السلام باره کی ویل رجلا مسحورا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نبی علیه السلام باندی د جادو په سلسله کی پرویز د هیڅ مفسر پیش کړی شوی بیان نه منی هغه ددی حدیث انکار ولی کوی ددی باره کی هغه وایی

ددی نه انکار ځکه پکار دی چی اول خو عقل او بصیرت ددی خلاف دی عقیدت او احترام خو پریږده کوم کس چی دنیا کی دومره عظیم انقلاب پیدا کړی وی د لاک مسلمانو په زړونوکی او د باهر ددنیا مسلمانانو زړونوکی یی انقلاب پیدا کړی وی هغه باندی دا کیفیت څنګه راتلی شی چی د نورو مدد خو لری خبره خپل مدد هم نشی کولی کوم ته چی دا هم یاد نه وی چی ما مونځ کړی که نه نو دا سی کس به ددومه رعظیم مملکت انتظام څنکه وکړی او دومره دنیا کی به انقلاب څرنګه پیدا کړی ایا هغه به رجلا مسحورا وی معاذ الله قطعا دا ویل صحیح ندی

نیز پرویز لیکی قران کریم دا خبره بیانوی چی کفارو به نبی علیه السلام ته مسحور ویل او قران خپله وایی دا دکفارو قول دی او تاسو مونږ ته وایی چی دا دسره ومنو چی هغه باندی سحر شوی وو دا څه خبره ده چی نه دلیل شته نه برهان او مونږ باندی خبره منی

مخکی بیا پرویز وایی د بخاری ددی حدیث سره سړی څه وکړی

احمد مصطفی هم په نفی علیه السلام باندی د سحر واقع کید و نفی کوی او وایی که چیرته دا تسلیم کړی شی نو د کفارو ددی قول موافقت به وشی چی هغوی د نبی لعیه االسلام باره کی ویل وو رجلا مسحورا

سید قطب هم پدی سلسله کی د احادیثو نه انکارکړی دی او فرمایی د روایات په تبلیغ ددین کی د عصمت نبوت منافی دی

حقیقت خبره داده چی په نبی علیه السلام باندی د جادو باره کی احادیث ډیر زیات دی دا احادیث په بخاری مسلم ابن ماجه مسند احمد وغیره کتابونوکی موجود دی

په صحیح بخاری کی دا حدیث په مختلف مقاماتوکی وارد دی

عایشه رضی الله عنها فرمایی په نبی علیه السلام باندی جادو شوی وو اوکیفیت یی داوو چی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

به دا ګمان کوو چی فلانی کار می کړی دی حالانکه نه به یی ووکړی بیا نبی علیه السلام دخپل رب نه دعا وکړه او بیا یی وفرمایل الله ماته هغه خبره راوښوده چی ما تری تپوس کړی وو عایشه پوښتنه وکړه هغه کوم خوب دی چی تا لیدلی دی

هغه وفرمایل زما خواته دوه کسان راغلل یو زما سر سره ودریده او بل ښپو سره بیا یو کس خپل ملګری ته وویل ددی صاحب بیماری څه ده

هغه وویل پدی جادو شوی دی هغه وویل چا پری جادو کړی دی

هغه وویل لبید بن اعصم

هغه وویل هغه جادو په څه شی کی دی

هغه وویل د ذروان بنی زریق په کوهی کی

عایشه رضی الله عنها فرمایی بیا نبی علیه السلام دغی کوهی ته لاړو اوکله چی زما خواته واپس راغلو نو ویی فرمایل قسم په الله ددی اوبه خو د نکریزو د نچوړ کړی شوی اوبو پشان وی او د هغه ځای دکهجورو ونی د شیطان د سرونو پشان وی

ما وویل ای د الله نبی تا دغه جادو دکوهی نه ولی نه راویسته

نبی علیه السلام وفرمایل

ما ته الله شفا راکړه او ما دا خوښه نه ګڼړله چی خلکوکی شر خپور شی

پدی روایت کی دا خبره ددی صاحب څه بیماری ده

او الله تعالی ماته شفا راکړه چی نبی علیه السلام د جادو په وجه صرف جسمانی تکلیف محسوسوو یعنی د حادو اثر صرف د هغه ذات پوری محدود وو او نبوت او رسالت ددی د اثر نه محفوظ وو نبی علیه السلام د جادو د اثر د وجی کوم شرعی حکم یا عمل نه وو ترک کړی پرویز

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی د بخاري حوالی سره دا خبره وکړه چی نبی علیه السلام ته به یاد نه وو چی مونځ یی کړی دی که نه دا همغه علمی دیانت دی چی هغه یی په خپلوکتابونوکی کوی د نبی علیه السلام باندی د جادو په سلسله کی هغه دا الفاظ استعمال کړی دی جادو وهلی انسان چی د مبالغی نه ډک دی او یو علمی خیانت دی

حالانکه په بخاری کی په یو حدیث کی هم دا تذکره نشته چی هغه ته به یاد نه وو چی مونځ یی کړی که نه

په بره حدیث کی دا خبره وه چی هغه ته به یاد نه وو چی فلانی کار یی کړی دی که نه دی د بخاری په یو حدیث کی دا الفاظ موجود دی کان یخیل الیه انه صنع شیا ولم یصنعه

د بخاری په باقی احادیثوکی هم ددی پشان الفاظ موجود دی یو حدیث کی دا الفاظ دی کان یخیل الیه ان یاتی اهل ولا یاتی د یو حدیث الفاظ دا رنګه دی حتی کان یری ان یاتی النسا ولا یاتیهن

یو حدیث کی د یلیخلیل الیه ان یفعل الشی وما فعله

ددی معنی او مفهوم الفاظ په مسند احمدکی هم شته

ددی حواله جاتو نه دا خبره معلومه شوه چی د جادو اثر د هغه په جسم باندی وو او روحانیت ددی نه متاثر نه وو دی وجی نه د هغه دعوت او تبلیغ جاری وو او هیڅ اثر پری نه وو شوی

همدا وجه ده چی عام خلک د نبی علیه السلام باندی د جادو د واقعی نه ناخبر وو

د نبی علیه السلام د بیبیانو څخه بعضو ته ددی خبر وو ځکه ددی اثرات په ظاهری جسم باندی وو

نو څرنګه سحر د نبی علیه السلام د عصمت منافی کیدای شی ؟

بیا دا خبره د قران د نص نه ثابته ده چی په وحی الهی کی شیطان هیڅ اثر نشی کولی الله تعالی فرمایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مونږ ستا نه مخکې کوم نبي يا پيغمبر ندی رالیږلی مګر دا چې کله به چا امید وکړو نو شیطان به د هغه په امیدکی وسوسه واچله نوکومه چی به شیطان اچله الله به هغه ختمه کړه او بیا به الله خپل ایاتونه مضبوط کړل

لهذا په رسول باندی چی کوم جسماني عوارض طاري وی په وحی الهی باندی د هغی هیڅ اثر نه وی مولانا عبدالرحمان کیلانی فرمایی

دا خبره په یقینی طور سره ثابت ده چی دا جادو د شریعت په احکامو باندی اثر انداز نه وو بلکی دا اثر د نبی علیه السلام ذات پوری محدود وو او ددی ثبوت دادی چی دغه وخت پوری د نیم قران نه ډیر نازل شوی وو او د عربو خلک په دوه ډلوکی تقسیم شوی وو د هغی څه یوه فرقه یا مسلمان وو یا د مسلمانانو معاهدین او دویمه فرقه مخالفین وو نوکه جادو چیرته د نبی علیه السلام په شرعی کارونو باندی اثر انداز وی یعنی کله به هغی مونځ هم نه ورکووکله به یی د یو رکعت په ځای دوه رکعته اداکول یا د قران ایت یی خلط ملط کوو یا د هغه نه د شریعت خلاف یو بل کار سرزد شوی وی نو دوست او دشمن به دا خبره خپره کړی وی

حالانکه واقعه داده چی یو هم داسی روایت نشته چی هغی کی دا اشاره وی چی ددی اثر د په احکامو ددین باندی شوی وو

که چیرته  په جسم باندی د جادو د اثر په وجه په عصمت د نبوت کی فرق راتلی نو په موسی باندی به د جادو اثر نه وی شوی حالانکه دا خبره د قران نه ثابته ده چی موسی علیه السلام باندی د ججادو اثر شوی وو

موسی وویل تاسو وارتوی کله چی هغی وارتولی نو موسی علیه السلام ته د هغوی رسی او امسا ګانی داسی ښکاره شوی ګویا کی منډی وهی نو موسی په خپل زړه کی یره محسوس کړه مونږ وویل ته مه ویریږه بیشکه ته غالب یی

معلومه شوه چی د موسی علیه السلام په جسم باندی د جادو اثر شوی وو مګر د هغی په وجه کفار په هغه غالب نه وو همدارنګه د جادو په وجه یهودان په هغه باندی غالب نه وو راغلی بلکی مسلسل د هغه دشمنان ذلیل او خوار وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مذکوره ایت کی د موسی علیه السلام لپاره د یخیل الیه الفاظ استعمال شوی دی او همدا الفاظ د نبی علیه السلام لپاره په بره احادیثوکی هم بیان شوی ووکه د حادو د اثر په وجه موسی علیه السلام ته رجل مسحور ویل درست ندی نو نبی علیه السلام ته دا ویل هم درست ندی لکه دا خبره پرویزکوی او غور او فکر خبره دا ده چی فرعون همدا الفاظ د موسی لپاره استعمال کړی دی

او د نبی علیه السلام لپاره هم دوی دا الفاظ استعمال کړی دی

یو بل ایت کی دی وقال الظالمون

فرق صرف دومره دی چی په موسی باندی د جادو اثر شوی وو او د یخیل الیه تذکره قران کی ده او په نبی علیه السلام باندی د جادو اثر شوی وو او د یخیل الیه تذکره په احادیثوکی ده

مگر پرویز وایی د بخاری دی حدیث سره سړی څه وکړی

ایا پرویز له دا نه وو پکار چی د انصاف نه یی کار اغستی وی او ویلی یی وی چی موسی ته مسحورا ویل دکفارو قول دی لهذا د قران دی ایتونو سره سړی څه وکړی چی دا بیان کوی چی د موسی علیه السلام په جسم باندی د جادو اثر شوی وو او هغه ویریدلی وو

عبدالله بن علی لیکی

د موسی علیه السلام مخی ته د شیانو شکلونه بدل شو پس دا ایت د حدیث پشان دی

پرویز چی څنگه د احادیثو تردیدکړی دی نه خو د قران د ایاتونو انکار هم لازمیږی او د حدیث په مخالفت کی داسی کول څه بعیده نده

د دی نه مخکی چی پرویز د بخاری احادیثو ته د قران خلاف ووایی که هغی د رجلا مسحورا او داسی نورو ایاتونوکی سوچ کړی وی نو هغه باندی به ددی ایت مقصدکولاو شوی وی او دا به ورته هم معلوم شوی وی چی په جسم باندی د جادو اثر او په مسحور والی کی څه فرق دی

کفارو چی نبی علیه السلام یا نورو پیغمبرانو ته مسحور ویلی وو د هغوی مقصد داوو چی د نبوت دعوی د سحر د اثر د وجی نه ده هغوی دا فکرکوو چی د انبیاو معجزات او شرعی احکام یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

معجزه ده

لکه نهه واضح نشانات چی موسی علیه السلام ته ورکړی شوی وی نو فرعون هغه ته مسحور ویلی وو

حضرت صالح علیه السلام چی کله قوم ته دعوت ورکړ نو قوم یی وویل انما انت من المسحرین پدی الفاظو سره یی هغی ته جادو زده وویل او د هغه نبوت یی پدی وجه ونه منه چی ته خو زمونږ پشان بشر یی

همداسی جواب د شعیب علیه السلام قوم هغه ته ورکړی وو د نبی علیه السلام لپاره هم دا لفظ استعمال شوی دی او دا پدی وجه چی هغوی د یته نه وو تیار چی نبی یی تسلیم کړی او د هغه تعلیماتو ته به یی جادو ویل او د توحید الهی بیان چی به یی واوریده منډی به یی وهلی او یو بل سره به یی پټی جرګی کولی چی که ددی مسحورکس خبره مو ومنله نوګمراه به شی

په یو بل مقام کی د نور صراحت سره دا خبره بیان شوی ده چی د نبی علیه السلام لپاره چی به کفارو قسم قسم الفاظ استعمالول د هغی مقصد دا وو چی داسی کس نبی نشی کیدای

د الله تعالی ارشاد دی

او دوی وویل څه وجه ده دی نبی لره چی روټی خوری او بازارونوکی ګرځی ولی نه نازلیږی دده سره یوه فریښته چی ده سره دعوت کوی او یا ولی ده ته خزانه نه رانازلیږی یا دده لپاره یو باغ وی چی خوراک تری کوی او ظالمان وایی تاسو تابعداری نه کوی مګر د جادو زده کس

وګوره دوی ستا لپاره څرنګه مثالونه بیانوی پس دوی ګمراه دی او نه مومی حق لاری لره

نو ایا نبی علیه السلام ته دکافرو رجلا مسحورا ویل د مسلمانانو په هغه باندی د جادو د اثر تسلیمول یو شان دی معاذ الله

دلته یو بل شی هم قابل غور دی نبی علیه السلام ته به د سحر د وجی بعضی شیان یاد نه وو او دا کیفیت یو څو میاشتی ووکله کله به راته حالانکه د سحر نه بغیر هم په پیغمبرانو باندی د نسیان راتلل شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وحی خفی د انکار په وخت منکرين حديث دداسی دلايلو انبار جمع کوی دی لپاره چی خپل مقصود حاصل کړی

موسی عليه السلام د خپل ځان لپاره د نسيت لفظ استعمال کړی دی ما نه هير شو د موسی او يوشع لپاره په قران کی د نسيا لفظ استعمال شوی دی هغی دواړو باندی نسيان راغلی وو

د ادم عليه السلا م لباره د نسی لفظ استعمال شوی دی او د نبی عليه السلام لپاره الله تعالی دا لفظ استعمال کړی دی واذکر ربک اذا

فلا تنسی استعمال کړی دی او د الا ما شاالله په راوړلو سره يی دا ثابت کړی ده چی نسيان شته دی مولانا عبدالله بن علی فرمايی

کوم جواب چی هغوی د نسيان باره کی کوی هغه جواب زمونږ د سحر باره کی هم دی

د پيغمبرانو د نسيان باوجود د رسالت په تبليغ کی هيڅ فرق ندی راغلی ځکه الله تعالی به د هغوی مسلسل رهنمايی او حفاظت کووکله چی به هغوی نه څه غلطی وشوه الله به يی فورا اصلاح کوله

نبی عليه السلام به هم بعضی وخت کی نسيان راته ليکن ددی په وجه هيڅ شرعی حکم ندی متاثر شوی بلکی د هغه په نسيان کی د امت لپاره مکمل اسوه حسنه وه چی سبا له امت نه څه شی هير شی نو دغه طريقه به اختياروی چی نبی عليه السلام اختيارکړی ده

د هيريدو په وخت کی به د نبی عليه السلام تذکير او ياد دهانی په يوه ذريعه سره کيدله نو همدا رنګه د سحر حالت هم د رسالت په تبليغ کی رکاوټ نه وو

ډاکټر شبير احمد په خپله رساله رسول اکرم پر سحرکی حقيقت او مفسرين کی ليکی

مفسرينو د سحر د عمل د اثرکولو مطلقا نفی نده کړی د هاروت او ماروت واقعه چی هغوی به د سحر تعليم ورکوو او د فرعون د ساحرانو واقعه د سحر د اثر د اثبات نقلی دلايل دی عقل او قياس هم ددی خبری تاييدکوی چی کله انبياو ته زخم بيماری د لړم چيچل تکليف ورکولی شی نو جادو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پری هم اثرکولی شی د فرعون د ساحرانو د سحر په وجه د نورو خلکو په څیر موسی علیه السلام هم خوف زده شوی وو نو الله خپل نبی ته تسلی ورکړه او ویی ویل ته دغه امسا وغورځوه ددوی د سحر په وجه جوړ شوی ماران به ټول وخوری

احمد مصطفی سید قطب او امین احسن په نبی علیه السلام باندی د جادو واقعه د عصمت نبوت خلاف ګرځولی ده پدی سلسله کی چی کوم احادیث دی هغه ټول اخبار احاد دی لیکن پخپلی دی علماو په نبی علیه السلام باندی د سحر څه اثرات تسلیم کړی دی

سید قطب په نبی علیه السلام باندی د جادو باره بعضی احادیثو ته صحیح ویلی دی نوکله چی دا مختلف روایات دی او په کتب سته کی شته دی نو بیا ددی د صحت نه انکارکول څه پکار دی ؟

اصلاحی صاحب دا تسلیم کړی ده چی په پیغمبرانو باندی د جادو اثرات عارضی طور سره کیدای شی ددی نه دا معلومیږی چی عام طور  سره چی مفسرین په نبی علیه السلام باندی د جادو نفی کوی دا مطلق طور  سره نکوی

د احادیثو د صحت باره کی ډاکټر صاحب فرمایی

څومره پوری چی ددی احادیثو تعلق د اخبار احاد سره دی نو دا یو حقیقت دی چی خبر واحد صرف پدی وجه نشی ردکولی چی خبر واحد  دی او خبر واحد ته دی علماو صحیح هم ویلی دی د ټولو په صحت باندی یی اعتراض ندی کړی او د عصمت انبیا مساله چی ده نو دا د سحر به وجه نه متاثرکیږی په نبی علیه السلام باندی د سحر اثرات جسمانی ذاتی او باطنی حد پوری وو دا اثرات صرف نبی علیه السلام محسوسول په بل چا باندی یی اثر نه وو البته کله چی نبی علیه السلام عایشه رضی الله عنها ته وویل او د کوهی نه یی جادو راویسته بیا خلکو ته پته ولګیده

تر څو پوری چی هغه باندی د جادو اثر وو هغه به جسمانی او ذهنی تکلیف محسوسوو لیکن د هیڅ فریضی او عبادت په کولوکی څه کمی نه وه واقع شوی

ددی بحث نه معلومه شوه چی منکرین حدیث چی څرنګه دا احادیث د قران سره ټکراووی که دوی دا طریقه په قران کی جاری کړه نو ډیر ایاتونه به د یو بل مخالف دوی ته میلاو شی البته که

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د محدثینو په اصولو باندی وچلیږی نو هیڅ حدیث به دوی ته د قران خلاف ښکاره نشی بلکی اکثر احادیث د قران په تفسیرکی مددګار ثابت دی لیکن د منکرین حدیث او غلام احمد پرویز په نزد هغه حدیث صحیح دی چی د قران مطابق وی

دی وجی نه د قران تفسیر په بعضی احادیثو سره پرویز خپله هم کوی کوم چی دده د فهم مخالف نه وی یا دکومو په وجه چی په مخالفینو ردکول مقصد وی

## دجال

منکرین حدیث وایی چی دجال یوه افسانه ده لیکن نبی علیه السلام په ډیرو احادیثوکی خپل امت ته ددجال د فتنی نه یره ورکړی ده او فرمایلی یی دی چی په مخ د ځمکه دا غټه فتنه ده چی پدی کی به هر یو مسلمان مبتلا وی د مسیح مطلب دی ممسوح العین ځکه ددجال یوه سترګه به نه وی عیسی علیه السلام ته مسیح ځکه وایی چی هغه به دجال لره وژنی او عربی کی ویل کیږی

مسح الله العله عن العلیل الله تعالی بیمار ته د بیماری نه شفا ورکړه

د الله په حکم سره به عیسی علیه السلام په بیمار باندی لاس راښکه نو روغ رمټ به شو او د مسح فلان بالسیف مطلب وژل دی ځکه چی عیسی علیه السلام به دجال وژنی دی وجی نه عیسی علیه السلام ته هم مسیح وایی

تمیم داری رضی الله عنه په یوی کشتی کی سور وو دا کشتی یوی جزیری ته ورسیده دا جزیره د قبرض نژدی وه پدی کی هغه یو ځناور ولیده چی د هغی شکل د انسان پشان وه او په جسم باندی یی ډیر ویښتان وو مګر دا معلومه نه وه چی ښځه ده که سړی ددی نه پس هغه ددجال سره میلاو شو چی په زنځیرونوکی تړل شوی وو

دجال به د یهودانو نه وی دا به د ایران د ښار نه راوځی بعضی وایی چی د اصفهان نه به راوځی دا هم د خراسان قریب یوه علاقه ده او اویا زره یهودان به د دجال ملګری شی د هغوی په جسم باندی به خړی کپړی وی ددجال په لاسونو به د ډیرو ناشنا کارونو ظهور وشی هغه به د ځمکی نه خزانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوباسی مړی به ژوندی کوی جنت او جهنم به خلکو ته ښایی د هغه جنت به جهنم وی او جهنم جنت

کله چی راوځی د ایمان او عمل صالح دعوت به ورکوی لیکن ورسته به د نبوت دعوی کوی د هغی په تندی به ک ف ر لیکلی شوی وی چی یو عام مسلمان به دا لوستی شی لیکن کافر او منافق ته به نه ښکاری

بیا به عیسی علیه السلام راځی هغه به په دمشق کی په مناره شرقیه باندی د اسمانه راکوځیږی د مهدی ظهور به کیږی د نبی علیه السلام دکورنی څخه به وی هغه به ځمکه د عدل او انصاف نه ډکوی عیسی علیه السلام به د مهدی نه شاته مونځ کوی او مهدی به د شریعت محمدی مطابق فیصله کوی بیا به عیسی علیه السلام ددجال سره جنګ شروع کوی اون په فلسطین کی د باب لد سره به یی وژنی

دلته دا سوال پیدا کیږی چی الله تعالی په قران کی د دابه الارض او یاجوج ماجوج ذکرکړی دی مګر د دجال نوم یی ندی اغستی

جواب دادی چی الله په قران کی دیته صرف اشاره کړی ده

په کومه ورځ چی رابه شی ستا د رب بعضی نشانات پدغه ورځ به هیڅ نفس ته ایمان راوړل فایده ورنکړی

ددی ایت تفسیر یو حدیث کړی دی

دری شیان چی کله هغه راوځی نو ایمان به فایده نه ورکوی یو دادی چی نمر به د مغرب نه راووځی دویم دابه الارض به راوځی  دریم دجال به راوځی

**نسخ**

منکرین حدیث په قران کی د نسخ هم قایل ندی حالانکه الله فرمایی کوم ایت چی مونږ منسوخ کړو

نسخ د شعیه د عقیده بدا خلاف دی د بدا مطلب دادی چی یوکس مخکی یو حکم وکړی بیا ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی حکم کی څه نقصان ښکاره شی او بیرته یی منسوخ کړی

د بدا په مفهوم کی خطا او غلطی پرته ده

د نسخ مطلب دادی چی کله د یو حکم زمانه ختمه شی او بله زمانه راشی نو دغه حکم د زمانی د تقاضی مطابق بدل کړی شی الله تعالی حکیم ذات دی او د هغه کتاب هم د حکمت والا دی یو حکیم چی کله د مریض بیمار وپیژنی نو بیا ورله په تدریج سره څومره چی هغه ښه کیږی د وخت مطابق ورسره دوا بدلوی رابدلوی د مرض د شروع نه تر اخر پوری یو شان دوایی ورکول د حکمت خلاف ده

نسخ په مخکنی شریعتونوکی هم وه لکه د ورور او خور واده په شریعت د ادم علیه السلام کی جایز وه بیا حرامه شوه

د اسماعیل علیه السلام د ذبح کولو حکم الله کړی وو بیا یی منسوخ کړ

د الله په قانون کی په نسخ کی د انسانانو لپاره ډیری فایدی دی یو قانو د یو سبب په وجه یو حکم جاری کوی بیا چی سبب ختم شی بیرته یی ختموی

نبی علیه السلام په اول کی د قربانی د غوښی د ذخیره کولو نه منع کړی وه بیا یی اجازت وکړو

په قران کی چی شراب تدریجا حرام کړی شوی دی دی کی هم دی حکمت طرفته اشاره ده

نسخ کله صریحی وی کله ضمنی کله کلی اوکله جزیی وی په قران کی ددی ډیر مثالونه دی یو مثال په ذهن کی ساتل کافی دی

الله تعالی فرمایی

پتاسو باندی فرض ده کله چی یو تن باندی مرګ راشی او هغه څه مال پریخی وی چی ښی طریقی سره وصیت وکړی د مور او پلار او خپلوانو لپاره دا په متقیانو باندی لازمه ده

دا ایت پد ی دلیل دی چی کله انسان مړکیږی نو په خپل مال کی د مور او پلار لپاره وصیت شی کولی لیکن کله چی الله د میراث ایت نازل که نو دا حکم یی منسوخ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مهدی ظهور**

د مهدی ظهور د اسلامی عقایدو یو جز دی ددی باره کی احادیث تواتر ته رسیدلی دی حوت بیروتی رشید رضی فرید وجدی وغیره د مهدی د خروج نه انکارکوی هغوی به زور او شور سره ددی د ردکولوکوشش کړی دی

د عیسایانو په نزد عیس علیه السلام مهدی منتظر دی لیکن د مسلمانانو په نزد به مهدی د فاطمه په اولاوکی وی د هغه نوم به محمد یا احمد وی کله چی راشی نو ځمکه به د عدل او انصاف نه ډکوی او د ظلم خاتمه به وشی مال به دومره ډیر وی چی څوک به صدقه نه قبلولی

مهدی به په ټوله دنیا باندی وه کاله حکومت کوی د هغه د وفات نه پس به خلافت عیسی علیه السلام ته ورکړی شی او د هغه په زمانه کی به یاجوج ماجوج راځی او د هغه ددعا په وجه به یاجوج ماجوج هلاکیږی

امام شوکانی فرمایی چی د مهدی باره کی د واردو احادیثو تعداد ۵۰ دی چی هغی کی بعضی صحیح بعضی حسن بعضی ضعیف دی د مهدی باره کی روایت کونکی صحابی ۲۶ دی او ددی متعلق کم ازکم ۲۸ اثار هم شته دی

مهدی څه ذاتی نوم ندی بلکی ددی لغوی معنی ده هدایت والا کس د دی د راوتلو څه خاص تاریخ یا ورځ نده معلومه البته کومه ورځ باندی چی راوځی هغی ورځ باندی به د عدل او انصاف نوم نه وی څلور طرفته به ظلم ظلم وی او پدی وخت کی به خلک د مهدی انتظارکوی د رکن یمانی او حجر اسود مابین کی به دده علامات ولیدلی شی او وبه پیژندلی شی او خلک به ورسره بیعت وکړی

پدغه وخت کی به د مسلمانانو دار الخلافه شام وی هغوی به د مهدی په خلاف د هغه سره جنګ کولو لپاره راوځی او د مکی نه مخکی په یوه صحرا کی به هغی ټولو باندی ځمکه لاړه شی او ځمکه کی به ډوب شی

یوکس به پاتی شی هغه به واښب لاړ ی او خلکو ته به دا واقعهووایی بیا به د اخبر په ټوله دنیا کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپور شی

او ټولو خلکو ته به پته ولګی چی حقیقت کی همدا مهدی منتظر دی او خلک به په منډو منډو د هغه بیعت لپاره راشی د بیعت شروعات به د رکن یمانی او حجر اسود په مابین کی وی

مهدی ته به خپله پته نه وی چی دا مهدی دی تر دی چی خلک به ورسره بیعت وکړی او هغه به خپله د خلافت دعوی نکوی

د علی رضی الله عنه نه روایت دی چی نبی علیه السلام فرمایلی دی مهدی به زما د اهل بیت څخه وی او الله تعالی به د هغه د خلافت انتظام په یو ورځ کی وکړی

ابو سعید خدری د نبی علیه السلام نه روایت کوی چی مهدی به زمونږ نه وی د هغه شاته به عیسی علیه السلام مونځ کوی ددی نه دا معلومیږی چی عیسی علیه السلام به د نبی علیه السلام د شریعت پابند وی نوی دین به نه راوړی نه به د عیسایت داعی وی

ټول خلک به مسلمانان شی او دین به غالب راشی

الحمدلله تم بخیر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**